سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۳/۰۷

# ماته مینه

## (د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت)

ځوانیمرګه مینه ختمه شوه تمامه
لمر ډبیږي لاړ پناه شو
ژیر وجوده نجلۍ ناسته په ګودر کې
تور تیکري نه یې اسمان هم رنګ راخلي
خپله ساندې وهي ژاړي
پلو نیسي ځپېره مخ ته
ټول وجود یې طپه لړزه دی
بس یو نوم یې په چاوډ شونډو
او یو هار یې طپه سینې کې
لا درزا د زړګي اوري
ټالۍ خوري او دې ته ځیر دی
پېغله هم د یوې ماشومې په رنګ
ورسره لوبې ځکوي
لیرې لیرې بلها زیات لیرې
یو مین د چنار شا کې
د ګودر په لوري ځیر دی
زړه نیولی، پښه نیولی
خو پښتو یې نوره ماته
په ژړا شو په کوکارو
له نصیبه په ګیلو شو
او روان شو وران ګودر ته
د لیلا مخکې ولاړ دی
خو د دواړو خولګۍ ګونګې
بس خوناب شبخون کاته دي
بدنونه جسدونه
حرکات پکې هیڅ نشته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

خو په کلي کې بیا ډزې دي خوښي ده
د ملک لور یې ورکړې بل ملک ته
د پیغلوټو ډلې ناځې
د زلمیو ملا تړلې
تیاری د واده شوی
خو چې شپه ځنګه را درومي
له اسمان سپوږمۍ ورکیږي
تورو وریځو کې پټیږي
یو ښایست تل پناه کیږي
سهار راشي لمر راخیژي
چې تر کلي خبر ورشي
د نجونو میره مړه شوه
شهزاده هم نور مړی شوی
ملکان ژاړي بې ګټې
بې فایدې غوندې لګیا دي
چې یې قتل وکړ عقل ورته راغی
دوه مین یې چې جدا کړل
نو ګناه یې لویه وکړه
دی به کله ترحم زده کړي خاونده
لا به کله انسانیت وکړي مالکه
ربه مات نور دا رواج کړې
د مین زړګی ته ښاد کړې
چې بیا کله داسې نشي
برخلیک یې تباه نشي

...
پورتنۍ کرښې دې زموږ د کلي لومړنۍ (شهیدې مئینې) ته ډالۍ وي، هغه چې خپل پلار یې پر سینه باندې وویشتله.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ